## مطبوعاتي اعلاميه

## امریکا د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره افغانستان د یوې نظامي پروژې په توګه کاروي

د جمعې په شپه له ټرمپ سره د اشرف غني د ټلیفوني خبرو او د افغانستان د جګړې لپاره د لا زیاتو امریکایي ځواکونو د را جلبولو په موخه په کانګرس کې د یرغلګرو قواوو قوماندان جنرال نیکولسن د وړاندیز پر مهال؛ د هلمند په سنګین کې د امریکا او ناټو ځواکونو د وحشیانه بریدونو په ترڅ کې د یوې کورنۍ پنځلس، د بلې پنځه غړي او د هماغه ځای یو شمېر ښځې، ماشومان او سپین ږیري شهیدان شوي دي.

امریکا یوازې په روان ترور او وحشت بسنه نه کوي، بلکې د هغه د دوام او پراختیا په لټه کې هم ده. لکه څنګه چې په کانګرس کې د وسله والو ځواکونو او امنیتي چارو د کمیټې مشر جان مکین د یوې استجوابیه غونډې په ترڅ کې له نیکولسن څخه پوښتنه وکړه؛ آیا په ټولیز ډول ستاسو په نظر موږ په افغانستان کې وړونکي یو؟ هغه ځواب ورکړ؛ «موږ له خنډ سره مخ شوي یو. جنګ د امنیتي ځواکونو د سختو تلفاتو سبب شوی، دولت تقریباً له دریو څخه پر دوو برخو خاوره واکمن دی. له طالبانو سره د سولې خبرو کومه نتیجه نه ده ورکړې او دولت په یوازې ځان د شته وضعیت د بدلولو وړتیا نه لري. د هغه په وینا پاکستان، ایران او روسیه طالبانو ته په مشروعیت ورکولو او په عین وخت کې د افغانستان د مرکزي دولت د تضعیف او تر پوښتنې راوستلو هڅې کوي». نو له دې ټولو څخه څرګندېږي چې افغانستان په سیمه کې د امریکا پر نظامي پروژه او د هغې له استعماري سیالانو سره د نیابتي جګړې پر ګرم ډګر بدلېږي.

حزب التحریر ولایه افغانستان یو ځل بیا پر دې مسئله ټینګار کوي چې د امریکا د سیمه ییزو سیاستونو او اسلامي خارو د اشغال د ختمولو لپاره، چې نظامي پروژه او نیابتي جګړه د دغو سیاستونو د عملي کولو خورا مهم اسلوب دی، یوازې یوه حل لاره لري. هغه دا چې باید هڅه وشي؛ ترڅو اسلامي امت د لاسپوڅو چارواکو په عزل کولو او د جبریه نظامونو په رانسکورولو، له یرغلګرو او ښکېلاکګرو کفارو سره خپلې هر ډول اړیکې پرې کړي او په بدل کې یې د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ (قرآن، سنت، د صحابه وو اجماع او شرعي قیاس) منګولې ولګوي. د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د تاسیس لپاره د امت انرژي او ځواک سره یو موټی کړي. هغه نظام چې د اسلامي امت د وینې، عزت، خاورې او عقیدې ساتنه کوي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

**"إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ" رواه مسلم**

یوازې امام «خلیفه» هغه ډال دی چې ترشا یې جګړه کوئ او دی ستاسو ساتنه کوي.

**د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**